اې خلافته! د امت وضعیت له تا سره او له تا پرته!



اې سپېڅلې مدینې !!! اې سپېڅلیه ښاره چې زموږ پیغمبر ﷺ ته مو په خلاصه غېږه ښه راغلاست ووایه او ملاتړ مو ترې وکړ. په یاد مو دي چې مسلمانانو څه ډول شکنجې وزغملې او د مکې - چېرته چې زموږ خوږ پیغمبر ﷺ زیږېدلی - پرېښودلو ته اړ ایستل شول، هغه ښار چې په ګاونډ کې یې د الله سبحانه و تعالی له لوري د وحې رالېږل پیل شول! هغه ښار چې د بشر په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره پکې خلکو ته قران کریم تلاوت شو! هغه ښار چې پکې د مسلمانانو د وینې لومړني څاڅکې تویې شول! هغه ښار چې ډېری اوسېدونکو یې له ګمراهۍ وروسته سرلوړي شول. اې سپېڅلې مدینې! د مسلمانانو د سوکالۍ هغه له خونده ډکې ورځې دې په یاد دي چې الله سبحانه و تعالی دې د اوسېدونکو په زړونو کې ښېګڼه او نېکي واچوله او تا په بشپړه توګه بدلون وکړ؛ د اسلام په واسطه لویه او پیاوړې شوې. له هغه وخت راهیسې، ته ټولې نړۍ ته د اسلام د خپرېدو د اتکا ټکی شوې.

اې سپېڅلې مدینې! ته په هغه ښار بدله شوې چې راشده خلفا پکې واکمن وو. د الله سبحانه و تعالی د اوامرو او پیغمبر ﷺ د سنتو کلکه پیروي یې کوله، دغو حاکمانو د اسلام رڼا ډېرو هېوادونو ته ورسوله. دغه وخت ته زموږ خوږ پیغمبر محمد ﷺ فرمایي:

**«الخلافة علی منهاج النبوة»**

**خلافت به د نبوت پر منهج وي**

د راشده خلفاوو تر واکمنۍ وروسته، د نورو خلفاو له نیمگړتیاوو او کمزوریو سره سره، خلافت پاتې شو او د نړۍ گوټ گوټ ته یې د اسلام خپرولو ته دوام ورکړ. خلافت د مسلمانانو کور و، هلته شریعت پلې کېده، غلامان ازادېدل او خلکو یوازې د الله عبادت کاوه؛ په دغه کور کې علم او پوهې د خلکو د گټې لپاره وده کړې وه. دغه دولت تر دې وروستیو دوام وکړ، بیا کافر اشغالگر پر دې بریالي شول چې خلافت ړنگ کړي، په دې وخت کې مسلمانان په ډېر بد وضعیت کې وو.
اې خلافته! کله چې ته وې، مسلمانانو یو مدافع او کور لاره، مسلمانان په نړۍ کې دومره بې کوره او بې اوره نه وو، لکه نن چې یهود سپکاوی ورته وکړي او د دفاع څوک یې نه وي. نن چې ته نشته یې، هر څوک هڅه کوي چې اسلام ته سپکاوی وکړي او مسلمانان ووژني. حتا زموږ حکام له اسلامه کرکه کوي او موږ د دې لپاره ځوروي چې خپل غربي او شرقي باداران خوشاله کړي.
اې خلافته! کله چې ته وې، نه دې پرېښودل چې درواغجن او نامردان قران تحریف کړي. نن جاهل، درواغجن او ډارن د پیغمبر ﷺ منبر ته پورته کېږي او د مقتدرو حکامو لپاره قران تحریفوي؛ لکه د ازبکستان په تاشکند کې. په دې وروستیو کې د تاشکند یوه لوی امام، انور کوری تورسونوف، د مارچ په ١٦مه د منار په مسجد کې د جمعې په خطبه کې ویلي: « په قران کې هېڅ داسې ایت نشته چې د خلافت د تاسیس غوښتنه پکې شوې وي.»
اې خلافته! کله چې تا پر مسلمانانو حکمراني کوله، هېڅ داسې کافران، مېرمنې او شهوت پرسته خلک نه وو چې سیکولرېزم پلی کړي؛ لکه اوس یې چې ټول مسلمان حکام کوي.
اې خلافته! کله چې ته وې، هېڅ کوم مسلمان حاکم د دې زړه نشوای کولای چې له اشغالگر کافر سره ملگري وکړي، لکه څنگه چې اوس یې د ترکیې ولسمشر اردغان کوي. اردوغان، خپلې الگو مصطفی کمال اتاترک- چې د خلافت په له منځه وړلو کې یې خپله ټوله هڅه وکړه- ته تعظیم وکړ. مصطفی کمال، انقره خپل د مېشتې ځای وټاکه او له دغه ځایه یې د خلافت پر وړاندې دسیسې جوړولې. د روان کال د اپرېل پر ۳مه، اردوغان په انقره کې خپلو ملگرو، روحاني او پوتین ته د مسلمانانو په ضد غېږه پرانیسته.
اې خلافته! هغه وخت چې ته وې، هېڅ کوم کافر نشوای کولی چې مسلمان ماشوم شکنجه او ووژني. نن، اشغالگر کفار په کیمیاوي وسلو سره په سوریه کې ماشومان وژني، په افغانستان کې د قران د حافظانو پر مدرسو بمبار کوي، بې شمېره ماشومان په برما کې وژني! او دا هرڅه د مسلمانانو د حکامو په خوښه کېږي.
اې خلافته! کله چې ته وې، مسلمانانو بیت المقدس فتح کړ. هغه ښار چې زموږ خوږ پیغمبر ﷺ ترېنه اسمان ته پورته شو او هغه ځای چې د مسلمانانو لومړنۍ قبله وه! نن چې ته نشته یې، کافرو یهودو د مسلمانانو لومړنۍ قبله غصب کړې، د یوه منظم پلان له مخې یې د فلسطین مسلمانان له مخې لرې کوي او په سیمه کې یې ټولې ځمکې نیولې.
اې خلافته! مسلمانانو یو ځل د خپلو ډېرو کړاوونو او ستونزو په وخت کې تقریبا هېر کړی وې او د خپلو ستونزو حل لاره یې په اسلام او خلافت کې نه؛ بلکې په نورو فکرونو کې لټوله. خو الله تعالی د محمد ﷺ د امت پر یوه بچې مهربانه شو او هغه دغه نعمت او د مسلمانانو د ټولو ستونزو حللاره له خپلو ملگرو سره شریکه کړه. دغو ملگرو دا پرېکړه وکړه او د اصحابو غوندې یې د محمد ﷺ پلونه وڅارل، یوه ډله یې جوړه کړه او د خلافت پر منهج د دویم ځل خلافت د تاسیس لپاره یې غږ اوچت کړ، هغه څه چې زموږ د خوږ پیغمبر ﷺ له لوري یې وعده شوې:

**(ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ ثُمَّ سَكَتَ)**

(... بیا به جبریه واکمني وي او تر هغه به دوام کوي چې الله غوښتني وي او کله چې الله وغواړي لرې یې کړي بیا به لرې شي او بیا به د نبوت پر منهج خلافت وی او (راوي وايي) بیا یې سکوت وکړ.)

اې خلافته! د پیغمبر ﷺ د پیغام له احیا سره، په میلیونونو مسلمانانو ستا په اړه واورېدل او ورپه یاد شوې! او اوس په ټوله نړۍ کې میلیونونه مسلمانان ستا راتلو ته بې کراره دي، پر دې سربېره دوی ستا د بیا راتگ لپاره خپله ټوله هڅه کوي.

اې خلافته! موږ الله ته دا دعا کوو چې بېرته ژر راشې! موږ له الله سبحانه و تعالی څخه دا غواړو چې د خلافت پر منهج د دويم ځل لپاره خلافت تاسيس کړي! اې خدايه ته مرسته راسره وکړې!

**ايلدر خمزين**

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی**

**ژباړه: احمد خالد**

**نېټه:**

**۲۰۱۸، د اپرېل د مياشتې ۱۴مه**